قاسم باز

۰۳ اگست ۲۰۲۰

# سلیمان لایق، یو مداح او د وخت شاعر ؤ!

سلیمان لایق د ثور د اتمی ( ۸ ) نیتی د سهار په ۶ بجو حفیظ الله امین ته د سردار محمد داوودخان د وژلو په باره کی داسی وویل.! « دا فرعون دی ووژل شی.»- د دستگیر پنجشیری په لیکنه

یو شاعر وائی.

**حسن چی بی سره شی بی قدره شی   څکه پښتنی مخونه پټ ساتی**

او یا دا چی.

**په هوا کښی الوتل د دوارو یو دي   د ټپوس انداز جدا د باز جدا دی**

زما په مقصرنظر، شعر د یو تعداد لغاتو ترکیب او بیا دا لغات د جملی په ډول د ښی قافیی په درلودلو سره د کاغذ پرمخ او یا په حافظه کی ساتل او سپارلو ته شعر وائی.

د شعر ویل د هر سړی کار نه دی ، شعر د شاعر ذهنی یعنی درونی احساس دی چی د بیرون څخه الهام اخلی.


کیدای شی یو ډیر ښه شخصیت ډیر بد شعر ووائی او یا ئی ولیکلی ، او همداسی بالعکس، یو ډیر بد شخصیت ډیر ښه شعر ولیکی، په دی معنی چی شعر نشی کولای د یوه بد جنایتکار شخصیت څخه ښه شخصیت جوړ کړی، شعر د انسان د شخصیت معیار کیدای نشی.

شعر یوه کلتوری پدیده ده، کلتوری پدیده د یوه شاعر په سیاسی ژوند د ښه والی او بد والی اثر نشی پریښودی. سلیمان لایق یو مرتجع د وخت او زمان د حالاتو یا په بله معنی د ورځی به نرخ شاعر وه . ښه شاعر هاغه دی چی د خپل کلتوری فعالیت سره سیاسی تقوا ولری تنها شعر د یوه شاعر شخصیت نشی جوړه ولای.

لکه څنګه چی می مخکښی وویل ، سلیمان لایق د ورځی په نرخ شاعر و. هاغه مخکښی د قدرت څخه یو رنګه اشعار ویل خو کله چی قدرت ته ورسید، شعری تفکر یی بدل او بله شیوه یی اختیار کړه، همدارازکله چی دی پاکستان او غرب ته پناهنده شو شعری طبع یی هم بلکل بدله شوه . نور نو نه د ده، د چونغګر چیغی وی او نه د زحمت کشانو فریادونه. نور یی نه د ثور د انقلاب قومندان یادوه او نه یی د کارمل او نجیب مداحی کوله. نور نه سوسیالیزم ده ته ارزش درلود او نه انترناسیونالیزم ، اوس نو دی د امپریالزم په غیره کی بیده و. لایق به ښه شاعر و خو ماته د ده د شعر نه، دده سیاسی چهره ډیره مهمه وه او ده. د ښاغلی نه کلتوری تقوا درلوده او نه سیاسی .

په اوسنی معاصر تاریخ کی مونږ زیات خوږ ژبی متین او دکلک هوډ شاعران لرو چی د وخت سیاسی طوفانونو او بادونو یی نه د دوی سیاسی او نه کلتوری تقوا ونه، و نه خوځوله . دوی لکه ددی مصرع په مصداق ***(لکه ونه مستقیم پر خپل مکان یم )*** په خپل ځای درانده ولاړ پاتی شول.

سلیمان لایق عیناً د استاد خلیل الله خلیلی په لاره روان شاعر دی، د ده سیاسی او کلتوری مبارزي دوه مخونه درلوده کله یی د استعمار پر ضد چغی وهلی ، کله بی یی په خپلو شعرونو کی دعوامو د حقوق څخه دفاع کوله او کله چی قدرت ته ورسید بیا د عوامو پر ضد د خلقی دربار او روسی استعمار مداح وګرځیده . لاندنی شعر دده اصلی چهره بربنډه وی دی په ډیری بی شرمی روسی استعمار او سرو لښکرو سربازانو چی زمونږ پر هیواد یی بربنډ یرغل وکړپه داسی غلامانه الفاظو ستایی.



شوروی زلمیان

شوروی زلمیان د سراو خان په بیه
د افغان د آزادۍ لپاره جنګ کړی
زوړ انګریز له دغه غمه لیونی شو
سور اردو په افغانانو باندی تنګ کړی

داپریل -۲٤- ۱۹۸۱

شوروی قهرمانان

د اهماغه شوروی قهرمانان دی
چی په سره لاره دثور کی قربانان دی
سرېتوب ته د دوی لاره مدرسه ده
دوی د یوې تولنی نه دی د جهان دی (۱)

داپریل -۲٤- ۱۹۸۱

خو کله چی سلیمان لایق د قدرت څخه د یو څه وخت لپاره لری شو بیا د خلقی دربار پر ضد او خپلی اشتباه ته متوجه داسی ندامت ښکاره کوی. لاندینی شعر د ده مرتجع بودن په ښه ډول تمثیل کوی.

سلیمان لایق وای.

«رهبر»

ما اقتــدا وریسی وکــره چی رهبر به وی   لکه چی وایی په هرڅه باندی خبر به وی

د ترږمیـو د دوران یو زړه ور بــه وی   د سختو ورځو د جنګونو د سنګر به وی

د تــالا شــویــو پرګنــو یو منور بــه وی   د پــاڅــیـدلو افــغــانــانو د بــاور به وی

زه غولیدلی وم په لوبو د یو غل باندی

ما غاړه ایشی وه په توره د اجل باندی

مــا ولســونه رابلل او درول می پسی   ماویده خلک ویښول اوخوځول می پسی

ماجنګی ورونه راوستل لښکرول می پسی   څوک به چی پاتی شووپه لارکی رسول می پسی

که به له کربنی نه کاږه شول سیخول می پسی   ما ننګول، ډله کول او سمول می پسی

مایوه کیچه مارته غاښونه د چیچو ورکړه

ما بی وزرونو ته وزر د الوتو ورکړه

کارغه به کله سندرغاړی د باغونو نه شی   د غار ګیدړ به توریالی د میدانونو نه شی

د قدرت غل به خدمتکار د ولسونو نه شی     وطن فروش به محافظ د وطنـونو نه شی

د لرګی تیغ به د رستم دګوزارونو نه شی      لړ می خړوب کړه چی داغم می دکلونونه شی

ساقی د تا د لیونتوب له پیمانی نه قربـان

ستاد رنګینی مشغولا له یارانی نه قربان

ماوی د زړه غم به څه کم شی خو ناسور شو پسی    ماوی ولس به په تن پټ شی خو لا چور شو پسی

زمـوږ ګلـزار وطـن ته ګوره چه تنور شو پسی      دوزخ د مـرګ او د زنـدان او د تـرور شو پسی

یـو کـپ ډوډی د اجـانـبو تـه مجبور شو پـسی      دا روغ زړګی می له غمونو نه رنځور شو پسی

د زیارایستونکو په نوم موږ ته جلادان راغله

پـه بلـه بنـه پـخـوانــی داړه مـاران راغلـه

سلیمان لایق د روس د اخیرین ګوډاګی داکتر نجیب الله د فرار په هکله له افغانستان نه په داسی ښکلو الفاظو بیان کوی.لطفاً دا لاندینی لینک په غور و ګوری.

https://video.search.yahoo.com

سلیمان لایق د خپلی غداری په دوره کی د خپل غلام صفته دوران د اوږدولو په خاطر د خپلی پخوانی عقیدی پر خلاف په ډیره مکارانه ډول د ملا او روحانیت څخه په دیری بی شرمی د همکاری غوښتنه کوی او د هغوی یوی ساختګی غونډی ته داسی درفشانی کوی؟

https://video.search.yahoo.com

سلیمان لایق یو مداح شاعر و.

سلیمان لایق ، نور محمد تره کی او حفیظ الله امین د توجو د جلبولو لپاره، تره کی او امین لعین ته داسی شعر ډالی کوی وایی.

ای زیمنت خاک بیجان جملگی جان گشته است / کلبۀ تاریک دهقانان چراغان گشته است

از نبرد حزب پیشآهنگ و اردوی جوان / زیر فرمان امین، کشور گلستان گشته  است

اگر امین فاتح شد از شاگردی و مهر توشد / او بملت گفت کارش از تو سامان گشته است

این جهان ، این کرۀ خاکی چنین هرگز ندید / این چنین مشکل که با عقل تو آسان گشته است

کارگر را از تو در کشور غرور و افتخار / خان و خائن از تو مرعوب و هراسان گشته است

آنکه میغرید روزی بر غریب و بینوا / رفته در یک گوشه و از ترس پنهان گشته است

ظالم و ستمگر و خونخوار و جلادان ده / از تفِ تیغ تو با وجدان و انسان گشته است

بزگر بی توشه را پروردگار توشه ده / نا امید بی زمین دارای پلوان گشته است

خصم گر منکر بود از معجزات هفت ثور / او تهی از جوهر مردی و وجدان گشته است

تودۀ زحمکش این مرز و بوم باستان / از دل و جان انقلابت را ثناخوان گشته است

-۱۳۵۸/ ۱/۱۰ کابل.

سلیمان لایق لکه څنګه چی په خپل لاندی شعر کی خپل حزبی او ایدالوژیکی ملګری په توهین امیزه الفاظو یاده وی او هغوی ته د سیاسی مداریانو خطاب کوی داسی فرمایی.

**سیاسی مداری.**

غږ چی د قدرت شی دی لا مخکی ورته زین شی
ته به وایی دا شیطان له ځمکی نه را شین شی
هر څوک چی را واوړی د امو د سیند پرلیکه
دی ورته کابل کی په سجده سر په زمین شی
بل افغان زوی چی عزت مومی په وطن کی
دا مزدور له پورزی نه تر پوندو ورته خوږین شی
ذهن ته چی ورشی د پښتون په برخه بره
کله ملاخیل، کله منګل، کله ترین شی
بیا چی د تاجک په هکله سم شی کار د ورځو
دغه ګوډاګی بیا د پنجشیر یا د نهرین شی
کله چی نامیند شی د بری د انقلابه
بیا دا مداری د ملایانو همنشین شی
زه یی د یو نوی پسرلی سترګی په لار یم
سور ګل به یی تور شی که به سپین شی که به شین شی
دا زما باور دی په دی تور انقلابی باندی
دب به مستقبل کی متحد د هر لعین شی
ان که د وطن په بیه جوړ شی کار د ورځو
دی به بی رقیبه دغی لوبی ته تعین شی.
سلیمان لایق ته د یوه دردیدلی افغان شعر.

http://rahparcham1.org/wp-content/uploads/2017/05/18157154_917089901763221_3307277649249297170_n.jpg

دسته: نبشته نقد و پاسخ.

/ http://rahparcham1.org/category

د افسوس ځای خو دلته دی چی نن ورځ جناب ؟ امرالله صالح دا د اسلام سرباز ؟ چی تقریباً دری نیمی لسیزی د سلیمان لایق سره وجنګیده نن هماغه پخوانی مجاهد!! صالح / سلیمان لایق یو ملی شخصیت بولی. زما سوال د جناب امرالله صالح څخه دادی چی جناب صالح صاحب ، ستاسو د دری نیمو لسیزو جنګ د روسی حکومت سره د څه پخاطر و که سلیمان لایق په ریښتیا ملی شخصیت وی نو د دی نه داسی بریښی چی واقعاً د ستاسو جهاد؟ د اسلام پخاطر نه و، تاسی په ناحقه وی لطفاً د افغان ملت څخه د خپلو جنایاتو بخښنه وغواړی. وسلام.
۲۰۲۰/۱/۸